# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۱۲مه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۳۱مه | ۶۷۲مه ګڼه


## پوهنتون

۴ مخ

### برنا د لوړو زده کړو موسسه

برنا د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو د وړتیا لوړولو په موخه سمینارونه، ورکشاپونه، مجهز لابراتوارونه او نور ډېر پروګرمونه لري.




### الکو: روان کال په هلمند کې ۹۳ پراختیایي پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل شوي




د هلمند د کرنې ریاست چارواکي وایي چې روان کال په دغه ولایت کې د کرنې په برخه کې لسګونه کوچنۍ او لویې پروژې پلي شوې دي.


د هلمند د کرنې رییس زلمی الکو وایي: «په ۱۳۹۹ یم مالي کال کې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژو ترځنګ د هلمند د کرنې ریاست په دې ولایت کې نږدې ۹۳ پراختیایي پروژې پلې کړې، چې پکې ممیزخونې، نوي تاسیسات او د سوداګریزو بڼونو جوړول، د اصلاح شویو تخمونو وېش، پر کرنیزو تخمونو څېړنه، د حیواني او نباتي ناروغیو مخنیوی، بزګرانو ته روزنیز پروګرامونه او عامه پوهاوی شامل دي. »

د الکو په خبره، د یادو پروژو په پلي کېدو سره د دغه ولایت د کرنې په سکټور کې د پام وړ بدلون رامنځته شوي او ترڅنګ یې ګڼو خلکو ته د اوږد او لنډمهالي دندې برابرې شوي دي.

الکو زیاتوي چې په راتلونکي کال به په یادو برخو کې ګڼې نورې پروژې هم پلي شي.

# خونړۍ جګړه او پر راتلونکي حکومت نانډرې؛

## د نوي حکومت په اړه د طالبانو څرګندونو، د افغان چارواکو سخت غبرګون وپاراوه



۵

### اشرف‌غني باید قرباني ورکړي؛ خو مشروطه او تضمین شوې

۲ مخ

### چین د افغان سولې په بهیر کې فعال او رغنده رول لوبوي

۲ مخ

### مشکلات بایدن در کار صلح افغانستان

۳ مخ

### معصوم ستانکزی: د اسلامي نړۍ ټولو عالمانو افغان جګړه ناروا او اوربند واجب بللی

د افغان دولت د مذاکراتي ډلې مشر محمد معصوم ستانکزي ویلي، چې د اسلامي نړۍ دیني عالمانو افغان جګړه حرامه او ناروا او په دغه هېواد کې یې د جګړې درېدل او اوربند واجب بللي دي.

هغه پر خپل ټویټر لیکلي، چې جنګیالي باید د جګړې د دوام لپاره له قراني احکامو او نبوي احادیثو څخه په تیاره کې ونه ساتل شي. هغه په هېواد کې روانه جګړه چې طالبان یې جهاد بولي، ننګولې او زیاته کړې یې ده چې دوی تیار دي دغه جګړه د اسلام له نظره ناروا ثابته کړي. هغه ټینګار کړی چې د سولې لپاره د رامنځته شوي اوسني فرصت ضایع کول د ملت په حق کې ستره جفا ده او باید څوک دا جفا ونه کړي. نوموړی دا څرګندونې وروسته تر هغه کوي، چې د طالبانو د سیاسي دفتر مرستیال عباس ستانکزي په خپلو وروستیو څرګندونو کې ویلي، چې که ولسمشر غني استعفا وکړي، دوی له اوسني حکومت سره یو ځای کېدو ته تیار دي.

بلخوا د عامه او ستراتېژیکو اړیکو په چارو کې د ولسمشر سلاکار وایي، دوی چمتو دي چې د سولې بهیر کې قرباني ورکړي، خو په دې شرط چې سوله له ډیموکراټیک بهیر او په افغانستان کې د ټاکنو له لارې د مشر ټاکلو باندې پای ومومي.

### په افغان جګړې کې ګډون د پاکستان ستره تېروتنه وه



۲ مخ

### سولیوان: واشنگتن پایبندی طالبان به توافق صلح را به‌گونهٔ جدی بررسی می‌کند



جِک سولیوان، مشاور امنیت ملی جو بایدن، رئیس‌جمهور امریکا، می‌گوید که واشنگتن، چگونگی پایبندی طالبان را به توافق‌نامهٔ دوحه به‌گونهٔ جدی بررسی می‌کند و سپس تصمیم خواهد گرفت که چگونه به‌پیش برود.

سولیوان که در انستیتیوت صلح امریکا سخن می‌زد، گفت که طالبان باید با حکومت افغانستان مذاکرات واقعی داشته باشند نه ساختگی: «ما اکنون اندازهٔ پایبندی طالبان را به سه شرط بررسی می‌کنیم و بربنیاد آن، دربارهٔ شمار نیروها و راهبرد دیپلوماتیک مان تصمیم خواهیم گرفت.»

مشاور امنیت ملی جو بایدن هم‌چنین گفت که طالبان باید خشونت‌ها را کاهش بدهند: «توافق‌نامهٔ دوحه، بر طالبان شرایط قابل توجهی گذاشته است که سه شرط آن برای ما بسیار مهم استند. نخست این است که آنان به‌گونهٔ جدی و پایدار روابط شان را با گروه‌های تروریستی به‌شمول القاعده قطع کنند. دوم این که سطح خشونت‌ها را به اندازهٔ معناداری کاهش دهند و به آتش‌بس کمک کنند. سوم این‌که به‌گونهٔ واقعی، نه ساختگی، با حکومت افغانستان وارد مذاکره شوند.»

سولیوان افزود که امریکا از مذاکرات میان حکومت افغانستان و طالبان پشتیبانی می‌کند: «حکومت گذشته، مذاکرات را میان ذی نفعان در افغانستان برای یک توافق سیاسی عادلانه و پایدار برای پایان دادن به منازعه تنظیم کرد و از آن پشتیبانی کرد. ما از چارچوب اصلی این کار بسیار پشتیبانی می‌کنیم.»




## سرلیکنه

# اشرف‌غني باید قرباني ورکړي؛ خو مشروطه او تضمین شوې

حکومتي ویندویان او چارواکي ټینګار کوي چې ولسمشر غني به خپله د واکمنۍ دوره پوره کوي او له هغه وروسته به د اساسي قانون پر اساس واک نوي ولسمشر ته سپاري. ارګ له هغه وروسته پر دې ټینګار کوي چې د طالبانو د مذاکراتي ټیم مرستیال عباس ستانکزي په مسکو کې وویل، چې اشرف غني د سولې خنډ دی، باید استعفا ورکړي، څو نوي اسلامي نظام ته لاره هواره شي. تر دې وړاندې هم ویل شوي وو چې د سولې لپاره باید غني واک پرېږدي او یو موقت، سرپرست یا انتقالي حکومت باید جوړ شي چې هغه وخت هم ارګ دا وړاندیزونه رد کړي وو.

اوس اساسي پوښتنه دا ده چې د اشرف غني د استعفا غوښتنه او د ولسمشر د واکمنۍ د دورې په پوره کولو ټینګار؛ معقول دریځونه دي او له سولې سره مرسته کولی شي؟

دا چې ولسمشر غني به خپله پنځه کلنه واکمني پوره کوي او بیا به واک د اساسي قانون پر اساس نوي ټاکل شوي ولسمشر ته سپاري، د دې مانا دا ده چې یا خو دې د ولسمشر غني د واکمنۍ تر پایه سوله نه کېږي او یا دې هم طالبان د ولسمشر غني حکومت ومني، کابل ته دې راشي او بیا دې په ټاکنو کې برخه واخلي او له دې لارې دې خپلې موخې تعقیب کړي. که څوک طالبان پېژني، د افغانستان پر وضعیت خبر وي او د اشرف غني د حکومت زور او مشروعیت ورته معلوم وي، پوهېږي چې دا اصلاً ممکنه نه ده. دا شونې نه ده چې طالبان دې د اشرف غني واکمني ومني. دا هېڅ نه شي کېدلی چې اشرف غني دې ولسمشر وي او په افغانستان کې دې سوله هم راشي. له همدې امله د اشرف غني د واکمنۍ پر دوام ټینګار یوازې یوه مانا لري او هغه دا چې سوله دې نه کېږي. دا دریځ د سولې ضد دریځ دی او هر څوک چې دا خبرې کوي، موخه یې همدا ده چې سوله دې نه کېږي او جګړه دې وغځېږي.

هغوی چې د اشرف غني د استعفا غوښتنه کوي، دوه ډوله دي؛ یو دا چې د دې لپاره هېڅ بدیل نه لري او یوازې همدا وایي چې اشرف غني دې استعفا ورکړي. دا کسان هم د سولې لپاره کومه ښکاره تګلاره نه لري او په دې ډول افغانستان لا زیاتې ګډوډۍ ته ځي. دویمه ډله چې د اشرف غني د استعفا غوښتنه کوي، ورسره یوه طرحه او بدیل هم لري چې په دې غوښتنه کې معقولیت شته. د سولې لپاره باید د اشرف غني څوکۍ قرباني شي، خو ورسره باید ډاډ وي چې مور سولې ته ځو. د دې ډاډ لپاره لومړی باید یوه واضح طرحه وي چې که اشرف غني واک پرېږدي، نو ځای به یې څوک او څه ډول نیسي. دویم دا چې د اشرف غني پر ګوښه کېدو او بدیل یې باید ټول کورني اړخونه توافق وکړي او بهرنۍ ملاتړ او تضمین پیدا کړي. له کورني توافق او بهرني ملاتړ او تضمین پرته د نورو ستونزو د جوړېدو وېره ده.

ښکېل اړخونه باید ومني چې د سولې لپاره قرباني حتمي ده. د ولسمشر غني په ګډون ځینې اړخونه باید قرباني ورکړي او له قربانۍ پرته سوله ناشونې ده، خو دا قرباني او انعطاف باید ټول د یوې منظمې طرحې په چوکاټ کې وي چې په کور دننه پر توافق او ملاتړ سربېره باید پیاوړی بهرنی ملاتړ او تضمین هم ولري.

# چین د افغان سولې په بهیر کې فعال او رغنده رول لوبوي



لیکنه: وانګ یو؛
پهافغانستان کې د چین لوی سفیر

دوه زره شلم کال د چین او افغانستان لپاره له ستونزو، بدلونونو او پرمختګونو ډک کال و. که د نړۍ سترو بدلونونو او کوویډ-۱۹ بدو اغېزو ته ځغلنده کتنه وکړو، نو دغه ټکي ته به ورسېږو، چې نړیوال اقتصاد له دویمې نړیوالې جګړې وروسته تر ټولو لوی بحران کې ښکیل شوی دی. سختو ننګونو ځواړخیزم او نړیوال نظام له سختو ستونزو سره مخامخ کړی، د چین د اقتصاد او نورو برخو د پرمختګ پر وړاندې خنډ واقع شوي او د افغانستان د سولې او پخلاینې پر بهیر یې هم د بې باورۍ خادر غوړولی دی، خو له نېکه مرغه د سوله خوښو افغانانو، سیمه ییزو هیوادونو او نړیوالې ټولنې د هڅو په رڼا کې، بین الافغاني مذاکرات پیل شوي او په افغانستان کې د اوږدې جګړې د پای ته رسولو لپاره یې یوه کړکۍ پرانېستلې ده. چین همیشه په دې پروسه کې فعال او رغنده رول لوبوي.

زه له یو کال څخه زیات وخت کېږي، چې په افغانستان کې د چین د سفیر په توګه دنده تر سره کوم، ما په همدې ستونزمن کال کې کار کولو ته دوام ورکړی، له ډېرو خلکو سره مې ولیدل، د افغانستان د مسئلې په اړه مې په څو نړیوالو کنفرانسونو کې برخه واخیسته، د افغانستان د سولې پروسه روانه ده، پرمختګ کوي او زه د دې شاهد پاتې شوی یم او ژور احساس کوم، چې چین د دوست ګاونډي هیواد په توګه د افغانستان د سولې او پخلاینې په پروسه کې د یو مهم ملاتړ کوونکي، منځګړي او هوساینې چمتو کوونکي په حیث رول لري.

چین د افغانستان د سولې او روغې جوړې له داسې پروسې کلک ملاتړ کوي، چې د افغانانو په مشرۍ او مالکیت تر سره شي. افغانان باید خپل برخلیک په خپله وټاکي او هیڅ بهرنۍ ځواک باید خپلې غوښتنې پر افغانانو ونه تپي او د افغانستان له سوله ییز بهیر څخه باید د شخصي ګټو لپاره استفاده ونه کړي. تاریخ ته په کتو، چین او افغانستان ډېری وخت د استعمار، امپریالېزم او ځورونې سره مخ شوي او چینایان د سوله ییز پرمختګ په برخه کې د افغانانو په څېر یو شان احساس لري. چین په دوه اړخیزو او څو اړخیزو ډګرونو کې د افغانستان د سولې او پخلاینې پروسې ته وده ورکوي او د نړیوالې ټولنې د اجماع لپاره هڅې کوي او د دې ملاتړ کوي، چې د افغانستان د کشالې اړوندې خواوې باید په سیاسي لارو چارو سوله تر لاسه کړي.

د چین د دولتي شورا غړي او د بهرنیو چارو وزیر وانګ یي د بین الافغاني خبرو اترو لپاره لاندې څو وړاندیزونه کړي دي.

لومړی: ډیالوګ او خبرې اترې د افغانستان د مسئلې یوازېنۍ حللار ده او اړوندې خواوې دې د سیاسي جوړجاړي پر اساسي لوري ټینګار وکړي. د افغانستان د سولې خبرو مختلف اړخونه ورونه او افغانان دي او د وخت او خلکو غږ دې تعقیب کړي، پخواني توپیرونه دې حل کړي او رښتیني او تلپاتې سولې او پخلاینې ته دې ورسېږي. زه هیله لرم چې د افغانستان بېلابېلې سیاسي ډلې د سولې پر خبرو قوي اعتماد لري، صبر او زغم ساتي او په ټینګ هوډ او ارادې مخ پر وړاندې درومي.

دویم: د افغانانو د مشرۍ پر اساسي اصل دې ټینګار وشي. د افغانستان سرنوشت د افغانانو په لاس کې دی. هغه مفهوم «د افغانانو مشري او مالکیت» دې اغېزمن او ښه وساتل شي. هیڅ هیواد دې په افغانستان کې جیو پولیټیکل سیالۍ نه کوي او هېڅوک دې د افغانستان مسئله د شخصي او سیاسي ګټو لپاره نه کاروي.

درېیم: پر ټولشموله چوکاټ دې ټینګار وشي. د خبرو اترو اړوندې خواوې دې د واکمنۍ یو داسې چوکاټ رامنځته کړي، چې د افغانستان بېلابېل ګوندونه، ملیتونه او مذهبي ډلې پکې ځان وویني او هر څه سره شریک کړي. دغه چوکاټ دې ټولشموله او د ټولو خواوو استازیتوب وکړای شي او ټول دې د ترهګرۍ پر وړاندې ټینګه مبارزه او سوله ییزه او دوستانه بهرنۍ تګلاره غوره کړي.

څلورم: د بیړنیو او اصلي مسئلو پر حل و فصل دې ټینګار وشي. افغانستان له جګړې نه پرته، د بې وزلۍ، مهاجرینو او نشه‌یي توکو په ګډون له ډېرو پېچلو ستونزو سره لاس او ګرېوان دی، نو د خبرو اترو اړوند اړخونه دې په ډېرې هوښیارۍ او ذکاوت د یادو مسئلو پر وړاندې مبارزه وکړي. هیله ده چې ټولې ډلې د ملي اقتصاد او خلکو نیکمرغه ژوند لپاره ګډ کوششونه وکړي، څو په افغانستان کې دایمي سوله او پرمختګ رامنځته شي.

پنځم: نړیواله ټولنه دې په اخلاقي او مسولانه توګه هلې ځلې وکړي. نړیواله ټولنه او د سیمې هیوادونه دې په پوره عدالت او زیار د سولې خبرې وهڅوي او له جګړې دې د افغانانو مخ واړوي. بهرني نظامي ځواکونه دې په منظم او مسوولانه ډول وګرځي، د تروریستي ځواکونو مخه دې ونیسي او په افغانستان کې د وضعیت ارامتیا دې تامین کړي.

چین د افغانستان مسئلې د اړوندو خواوو ترمنځ منځګړیتوب کوي. کمیشنر وانګ یي پر دې ټینګار کړی، چې چین د افغانستان د نږدې ګاونډي او مخلص ملګري په توګه تمه لري، چې په دغه هیواد کې به سوله او ثبات ټینګ شي. چین ډېر هیله من دی، چې د خبرو اترو دواړه خواوې به اختلافات له منځه یوسي، ګډې موافقې به وکړي او وسلې به پر ځمکې وغورځوي. دواړه خواوې دې د دې تر څنګ پر سیاسي لارې او ټولشموله چوکاټې موخې ټینګار وکړي.

که تاریخ ته کتنه وکړو، نو مالومه به شي چې د چین او افغانستان ترمنځ تر اوسه جګړه یا شخړه نه ده شوې او دواړه لوري له اوږدې مودې راهیسې یو له بل سره مرستې کوي او یو بل ته درناوی لري. چین د افغان مسئلې له ټولو خواوو سره ژوره ملګرتیا رامنځته کړې او د دوی په منځ کې یې پلونه جوړ کړي او د سولې او خبرو اترو د هڅولو لپاره یې مثبت رول لوبولی او پراخې ستاینې یې تر لاسه کړې دي. چین د افغان سولې لپاره اړوند ډګرونه هم چمتو کړي او خپل خدمتونه او پلانونه یې وړاندې کړي دي. د بېلګې په ډول، د چین - افغانستان - پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو درې اړخیزې ناستې، د چین - متحده ایالاتو- روسیې تر منځ مشورې، د چین- روسیې- ایران- پاکستان د افغانستان چارو د ځانګړو استازو غونډه، «د شانګهای همکارۍ سازمان - افغانستان د تماس ګروپ » او داسې نور.

چین د افغانستان د سولې او روغې جوړې پروسې فعال خدمت کوونکی دی. چین د افغانستان د سولې او پخلاینې وروستی وضعیت تعقیبوي او ابادوونکي کارونه تر سره کوي. چین د افغانستان له ټولو ډلو څخه غواړي، چې د هیواد او خلکو ګټو ته لومړیتوب ورکړي او د خبرو اترو پر میز دې سولې ته ورسېږي. چین به د بین الافغاني مذاکراتو د دویم پړاو لپاره تر وسې مرستې وکړي او چمتو دی، چې د افغانستان د ټولو خواوو له نیت سره سم د ډیالوګ ډګر چمتو کړي او د افغانستان د سولې او پخلاینې پروسه وهڅوي. چین له نړیوالې ټولنې غواړي، چې د افغانستان وضعیت ته پوره پام وکړي، د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د توان لوړولو لپاره دې روزنې، پانګې او تخنیکي ملاتړ ته دوام ورکړي، د ترهګرۍ، بین المللي جرمونو او د نشه‌یي توکو قاچاق پر وړاندې د مبارزې لپاره دې له افغانستان سره مرستې وکړي، «د ملي سولې او انکشافي چوکاټ «(۲۰۲۱-۲۰۲۵) په پلي کولو کې دې د افغانستان ملاتړ وکړي، څو د دغه هیواد د غربت، کډوالۍ، تروریزم او نورې ستونزې حل شي. د افغان حکومت او طالبانو استازي د سولې خبرو ته د دوام ورکولو لپاره په دوحه کې پر چلن‌لار یا طرزالعمل هوکړې ته رسیدلي او دا په تېرو ۱۹ کلونو لومړی ځل دی، چې دواړه خواوې یوې هوکړې ته رسیږي. د دوی دغه کار د خبرو اترو دویم پړاو د پیل لپاره هم ښه بنسټ ایښی دی. چین د بین الافغاني مذاکراتو د پرمختګ هرکلی او قدرداني کوي. دا د افغانانو اوږدمهاله هیله ده، چې ژر تر ژره سولې او ثبات ته ورسېږي.

په افغانستان کې ډېر کالونه کېږي، چې جنګ روان دی، نو افغانان هم د یوه سوله ییز، ټیکاو او غوره راتلونکي مستحق دي. موږ صادقانه هیله لرو، چې د خبرو اترو دواړه خواوې ملي ګټو او ښې رویې ته لومړیتوب ورکړي، د افغانانو له غوښتنو سره سم دې د سولې لپاره ګډ کوششونه وکړي. چین چمتو دی، چې له نړیوالې ټولنې سره د یاد کار لپاره رغنده رول ولوبوي.

چین او افغانستان ښه ملګري، ښه ورونه او ښه ګاونډیان دي. چین په افغانستان کې د سولې او پخلاینې پروسې په پرمختګ کې تل دا مفهوم تعقیبوي، چې « ښه رویه د لوی هیواد رښتیني ګټه ده او نورې ګټې نه « له افغانستان سره مساوي او د ګډو ګټو چلند کوي او د زړه له کومې هیله لري، چې افغانان سوله، ښه ژوند او روښانه راتلونکې ولري. رییس شي جین پینګ پنځه کاله دمخه د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ د ۷۰یمې عمومي غونډې په مباحثوي مجلس کې د بشر د ګډ برخلیک ټولنې د ابادۍ داسې عمده لار وړاندې کړه، چې له مخې یې اقتصادي، سیاسي، کلتوري، اجتماعي او ایکولوژي ګډه ابادي تر سره کېږي. چین او افغانستان د یو کمربند او یوې لارې د ګډې ابادۍ، سیمه ییز پیوستون او د کرونا وبا پر وړاندې د مبارزې په بهیر کې د ګډ برخلیک ټولنه نوره هم ټینګه کړې ده. د دواړو هیوادونو د خلکو تر منځ متقابل باور پیاوړی شوی او ملکي تګ راتګ یې ژور شوی دی او ښې نتیجې یې تر لاسه کړې دي.

د چین د دولت رییس شي جین پینګ څه موده مخکې د بریکس (BRICS) هیوادونو د مشرانو په دوولسمه ناسته کې ګډون کړی و او خپلو خبرو کې یې غوښتنه وکړه، چې د دې غونډې په اعلامیه کې دې دغه جملې ولیکل شي: «موږ په افغانستان کې د اوږدمهاله سولې غوښتنه کوو. د یو ارام، ټولشموله، سوله ییز، خپلواک او سمسور بشپړ افغانستان لپاره د افغانانو ملاتړ او د بین الافغاني مذاکراتو هرکلی کوو او د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سوله ییز بهیر ملاتړ ته دوام کوو.» د نوموړي له دغو خبرو څرګندېږي، چې چین د افغانستان د سولې او روغې جوړې له پروسې څخه کلک ملاتړ کوي او د افغانستان د داخلي خبرو اترو لپاره خپلو خدمتونو ته دوام ورکوي. د افغانستان د سولې او پخلاینې پروسه اوس یوه نازک پړاو ته رسیدلې ده، چین امید لري چې د افغانستان اړوندې خواوې له دغه فرصت څخه استفاده وکړي، او ژر تر ژره د جګړې پر ځای مصالحه غوره کړي او د کورنیو سیاسي ترتیباتو په اړه ژر موافقې ته ورسېږي، څو د افغانانو له سر څخه د جګړې سیوری واخیستل شي او په دغه هېواد کې سوله ټینګه او افغانان روښانه راتلونکې ولري.

# مشکلات بایدن در کار صلح افغانستان

منبع: تایمز
نویسندگان: جیمز کانینگهام هوگو لارنس
مترجم: سیدجمال اخگر

از مهم‌ترین مسائل مرتبط با سیاست خارجی کاخ سفید که رسیدگی به آن اولویت دولت جدید ایالات متحده به رهبری بایدن خواهد بود، یکی هم جنگ افغانستان و تصامیم دشوار مرتبط با آن است. به‌رغم اشتباهات ایالات متحده‌ی تحت رهبری ترمپ در خصوص افغانستان، اکنون این کشور واقعا ممکن است فرصتی برای دست‌یابی به نوعی توافق سیاسی و کاهش قابل‌ملاحظه خشونت داشته باشد.

تیم جو بایدن در مسیرش به سمت برقراری صلح پایدار در افغانستان باید خیلی محتاطانه گام بردارد. دولت جدید ایالات متحده از یک طرف باید روشن کند که صلح در افغانستان به معنای تحویل‌دادن این کشور به دست طالبان نیست، بلکه مستلزم جلوگیری از پیروزی نظامی طالبان است. از طرف دیگر دولت بایدن و شرکای ایالات متحده باید فشارشان را بر حکومت افغانستان برای مذاکره جدی با طالبان حفظ کنند و برای کابل واضح سازند که حمایت نظامی یا مالی امریکا را به‌عنوان مجوزی برای امتناع از سازش تصور نکند.

دولت بایدن باید همه‌ی این کارها را انجام دهد و در عین‌حال بپذیرد که مذاکرات موفقیت‌آمیز، یعنی مذاکراتی که موجب حفظ قانون اساسی و حقوق بشر به‌ویژه حقوق زنان شود، زمان‌بر است.

تلاش برای دست‌یابی سریع به صلح در افغانستان به اشتباهات بی‌شماری انجامیده است. دولت ترمپ بارها حکومت افغانستان را وادار کرد تا در مذاکرات باج دهد و حتا در مواردی برای عبور از بن‌بست‌ها در روند مذاکرات دست به تضعیف مواضع خود واشنگتن زد. در نتیجه‌ی این اشتباهات طالبان به خواسته‌های‌شان افزوده‌اند، هیچ امتیازی نداده‌اند و به مذاکره‌کنندگان جانب حکومت افغانستان نیز گفته‌اند که یگانه نقش مذاکره‌کنندگان حکومت مذاکره در مورد تسلیمی حکومت‌شان به طالبان است.

تیم بایدن باید مصمم و با حوصله هر دو طرف مخالف را به سمت توافق پایدار که بتواند به جنگ طولانی افغانستان پایان بخشد، سوق دهد. اگر این کار به خوبی انجام شود، منافع امنیتی ایالات متحده در افغانستان و منطقه تقویت خواهد شد. اگر بد انجام شود، همان‌طور که تاحالا شاهدش بوده‌ایم، باعث خواهد شد تروریست‌ها در افغانستان جان و جا بگیرند و زنان و مردان این کشور به‌دست سرنوشت شوم سپرده شوند.

طالبان در حقیقت همین‌حالا در تلاشند تا از وضعیت امنیتی روبه وخامت افغانستان که در آن روشن‌فکران، روزنامه‌نگاران و رهبران جامعه مدنی به طرز سیستماتیک به قتل می‌رسند، و نیز بی‌اطمینانی عمیق مردم و نخبگان این کشور در خصوص سیاست امریکا، به نفع خود استفاده کنند.

دولت بایدن که در فردای تحلیف ریاست‌جمهوری اولویتش به احتمال زیاد مسائل فوری‌تر مانند تهدید روسیه و بحران کووید-۱۹ و اقتصاد فلج ایالات متحده خواهد بود، باید رویکردی کوتاه‌مدت را برای رسیدگی به این مسائل اتخاذ کند تا فرصت پرداختن به موارد طولانی‌مدت را داشته باشد. اگر دولت جدید امریکا اعلام کند که تا زمان مشخص‌شدن این امر که آیا طالبان به تعهدات‌شان عمل کرده‌اند یا خیر، خروج نیروهای امریکایی از افغانستان را متوقف می‌کند، فرصت خواهد یافت تا از باخت، آن‌هم قبل از تصمیم‌گیری در مورد طرح نهایی‌اش در خصوص افغانستان، جلوگیری کند.

**میراث که از دولت ترمپ به بایدن می رسد**

تیم بایدن نباید اعتبار فراهم‌شدن شرایط برای برقراری صلح در افغانستان را از دولت ترمپ دریغ کند. ترمپ در اولین سال ریاست‌جمهوری‌اش گرچه نسبت به نقش امریکا در افغانستان عمیقا دچار تردید بود، اما در نهایت به توصیه‌های وزیردفاع وقت «جیمز متیس»، مشاور امنیت ملی وقت «مک‌ماستر» و لوی درستیز «جوزف دانفورد» گوش داد. نتیجه این توصیه‌ها توسعه استراتژی «مبتنی بر شرایط» برای منطقه جنوب آسیا بود که ترمپ آن‌را در ماه آگست سال ۲۰۱۷ اعلام کرد و بسیارهم موردتوجه قرار گرفت. در این استراتژی مشخص شده بود که نفع استراتژیک ایالات متحده همچنان در جلوگیری از تبدیل‌شدن دوباره افغانستان به سکویی برای حمله‌ی تروریست‌ها به خاک امریکا نهفته است. برای اطمینان از تبدیل‌نشدن دوباره افغانستان به لانه تروریست‌ها، رویکرد دولت ترمپ شامل فشار نظامی بر شورشیان طالبان از طریق توان‌مندسازی و پشتیبانی از نیروهای امنیتی افغانستان با ارائه مشاوره به این نیروها و تقویت تعاملات دیپلماتیک در منطقه به ویژه با حامی اصلی طالبان، پاکستان بود.

این رویکرد چندسره سرانجام و همان‌طور که باید، شرایط را برای مذاکرات مستقیم ایالات متحده و طالبان در ماه سپتامبر ۲۰۱۸ فراهم کرد. گفت‌وگوهای صلح به رهبری زلمی خلیل‌زاد از جانب ایالات متحده، و ملا برادر از جانب طالبان، به امضای توافق‌نامه‌ای بین دو طرف در ۲۹ فبروری ۲۰۲۰ انجامید. این توافق‌نامه تاریخی و نه‌چندان بی‌عیب، شامل چهار عنصر اصلی بود: تعهد طالبان به جلوگیری از فعالیت گروه‌های تروریستی مانند القاعده و دولت اسلامی خود خوانده در خاک افغانستان، جدول زمانی برای خروج نیروهای امریکایی تا اوایل سال ۲۰۲۰، آغاز گفت‌وگوهای صلح بین مقامات حکومت افغانستان و همتایان طالبان‌شان، و تعهد به کاهش خشونت در این کشور. در کنار این توافق‌نامه، هم ایالات متحده و هم حکومت افغانستان به‌طور جداگانه بر لزوم آتش‌بس نیز تأکید کردند.

این تلاش‌های دیپلماتیک چشم‌گیر از جمله آغاز گفت‌وگوهای بین‌الافغانی در دوحه، فرصتی بی‌پیشینه را برای پایان‌دادن به منازعه افغانستان و همچنین حفظ منافع امنیتی اصلی ایالات متحده فراهم کرد.

متأسفانه ترمپ برخلاف توصیه مشاوران امنیت ملی خود سعی کرد با اعلام تصمیمش به تکمیل روند خروج نیروهای امریکایی از افغانستان تا پایان سال ۲۰۲۰ اهداف انتخاباتی تیمش را پیش ببرد. در نتیجه اعتبار «خروج مبتنی بر شرایط» از افغانستان آسیب دید. تویت‌های بی‌ملاحظه رئیس‌جمهور ترمپ و مداخلات بدوقت وی مذاکرات شکننده صلح افغانستان را تضعیف کرد. علاوه براین، تیم ترمپ حکومت افغانستان را مجبور به دادن امتیازات یک‌جانبه به طالبان کرد که آزادکردن زندانیان این گروه که ممکن است تا حالا به میدان جنگ بازگشته باشند، نیز شامل آن بود.

مداخلات ترمپ باعث تشجیع طالبان شد و به این گروه جرأت داد عملیات‌های نظامی‌اش از جمله ترورهای هدف‌مند مقامات، روزنامه‌نگاران و رهبران جامعه مدنی را تشدید کند. علاوه براین گزارش‌های سازمان ملل متحد و اظهارات مقامات امریکایی در کنار سایر تحلیل‌ها حاکی از این است که گروه طالبان به تعهدات خود در توافق‌نامه‌اش با ایالات متحده در خصوص القاعده، عمل نکرده است.

**فرصت های که بایدن دارد**

خوش‌بختانه بایدن، وزیرخارجه‌ی دولتش «تونی بلینکن»، وزیردفاع دولتش «لوید آستین» و مشاور امنیت ملی‌اش «جیک سالیوان» همه از تجربه کافی در خصوص افغانستان برخوردارند. آن‌ها ارزش ختم جنگ در این کشور از طریق توافقی که بتواند زمینه را برای برقراری صلح پایدار و امکان عملی را برای جلوگیری از تهدیدات تروریستی بین‌المللی از خاک افغانستان فراهم کند، درک می‌کنند.

دولت جدید بایدن باید تصریح کند که از مذاکرات صلح جاری در دوحه حمایت می‌کند. دولت بایدن باید روند خروج نیروهای امریکایی را از افغانستان تا زمانی که یک بازنگری سیاستی سریع بینانهادی در این خصوص انجام نشده، متوقف کند. در روند بازنگری باید با ناتو، اتحادیه اروپا و سایر متحدان واشنگتن که با وفاداری کنار ایالات متحده در افغانستان مشارکت داشته‌اند، مشوره شود. روند بازنگری باید بررسی مجدد خروج نظامی‌ها را نه‌تنها به عنوان بخشی از یک استراتژی سیاسی بلکه همچنین برای اطمینان از امنیت نیروها، دیپلمات‌ها و سایر پرسنل امریکایی باقی‌مانده در افغانستان شامل شود.

تیم بایدن در صحبت‌های خصوصی با نمایندگان طالبان در دوحه باید واضح سازد که ایالات متحده حتا پس از بازنگری سیاست‌هایش هیچ الزامی براساس توافق‌نامه ماه فبروری ۲۰۲۰ ایالات متحده با طالبان برای تکمیل خروج نیروهای امریکایی از افغانستان تا زمانی که شواهد ملموس درباره عملی‌شدن تعهدات طالبان در مورد القاعده و سایر سازمان‌های تروریستی و جدی‌بودن این گروه در مذاکرات برای صلح، در دست نباشد، ندارد.

تیم بایدن باید روشن کند که سطح نیروهای امریکایی در افغانستان و سایر حمایت‌های دیپلماتیک و مالی ایالات متحده به این کشور به اقدامات ملموس و قابل اعتماد طالبان و حکومت افغانستان اگر نه آتش‌بس در راستای کاهش چشم‌گیر و قابل‌اندازه‌گیری خشونت‌ها در افغانستان بستگی خواهد داشت.

مطرح‌کردن این نکات احتمالا به چانه‌زنی‌های دشواری با طالبان منجر خواهد شد.

بایدن و مقامات ارشد دولتش باید عین نکات را با مقامات پاکستانی نیز در میان بگذارند. ایالات متحده باید واضح سازد که روابط مثبت دوجانبه بین واشنگتن و اسلام‌آباد، از جمله از سرگیری روابط نظامی دو کشور، تنها زمانی ممکن خواهد بود که مقامات نظامی، استخباراتی و غیرنظامی پاکستان به‌طور جدی از نفوذشان بر طالبان برای کاهش خشونت در افغانستان استفاده کنند و مطمئن شوند که طالبان با حسن نیت و برای رسیدن به توافق سیاسی مذاکره می‌کند.

دولت جدید ایالات متحده باید به رئیس‌جمهور غنی و طبقه سیاسی کابل واضح سازد که قرار نیست واشنگتن به کابل چک سفید دهد و نیز ادامه حمایت مالی و نظامی امریکا به تلاش حکومت و نخبگان سیاسی افغانستان برای یافتن راه‌حل سیاسی سازنده‌ی که بتواند خصومت‌ها را پایان دهد، بستگی خواهد داشت. رهبران افغانستان، اعم از حکومتی‌ها و اعم از اپوزیسیون و جامعه مدنی در کابل باید اختلافات‌شان را که در واقع حکومت را از مذاکره مؤثر و در دست‌یابی به اصلاحات ضروری در زمینه امنیت و حکومت‌داری ناتوان کرده است، کنار بگذارند.

دولت بایدن باید با متحدان، شرکا و سایر بازیگران اصلی منطقه (از جمله چین، روسیه و هند) برای بازسازی اعتماد و ایجاد تفاهم پس از دوره ترمپ وارد تعامل استراتژیک و جدی شود. عین تعامل با افغان‌ها نیز لازم است. بی‌اعتمادی بین ایالات متحده و افغان‌ها بی‌داد می‌کند و لازم است هریک از طرف‌ها راهی برای درک طرف دیگر پیدا کند.

ایالات متحده و شرکایش باید هرچه را در توان دارند برای ازسرگیری مذاکرات صلح در همین ابتدای سال ۲۰۲۱ انجام دهند. دور تازه گفت‌وگوها باید برای پرداختن به مسائل اساسی که برای چارچوب حکومتی پسا جنگ الزامی است آغاز شود. همه‌ی این کارها اما بدون صبر و حوصله ناممکن است. واکنش ایالات متحده در برابر هر بن‌بست در جریان گفت‌وگوها نباید پذیرفتن بی‌چون‌وچرای خواسته‌های طالبان باشد.

ایالات متحده برای تسهیل مذاکرات باید به‌طور جدی پیشنهاد کند که هر دو طرف مخالف با حضور یک میانجی مستقل و قابل‌قبول از کشور ثالث موافقت کنند. چنین ترتیبی در روند به طرف‌ها کمک خواهد کرد که بتوانند در مورد مسائل بسیار پیچیده و عمیقا مورد اختلاف مذاکره کنند. با این‌که محرک اصلی منافع ایالات متحده در افغانستان و منطقه جنوب آسیا و آسیای میانه، امنیت امریکا و امریکایی‌ها است، دولت بایدن باید اهمیت ارزش‌های ایالات‌متحده را بازگرداند. ایالات متحده باید حمایت خود را از اصول اصلی قانون اساسی لیبرال افغانستان که دست‌آوردهای چشم‌گیر این کشور طی بیست‌سال گذشته در زمینه حاکمیت دموکراتیک، توان‌مندسازی زنان، محافظت از حقوق اقلیت‌های قومی و آزادی مطبوعات و اجتماعات را ممکن کرده است، دوباره اعلام کند. این کار با مواضع بایدن که احیای نقش امریکا به عنوان محافظ دموکراسی در سراسر جهان است، کاملا هم‌خوانی دارد.

مهم است بپذیریم که صلح پایدار هرگز در افغانستان تحقق نخواهد یافت، مگر این‌که چارچوبی برای حکومت‌داری در این کشور ایجاد شود که بتواند حقوق مردم را محافظت و شرایط را برای دست‌یابی به عدالت اجتماعی و رشد اقتصادی پایدار مهیا کند.

همان‌طور که دونرها در کنفرانس ژنیف در نوامبر ۲۰۲۰ واضح ساختند، پیشرفت اقتصادی افغانستان به ادامه حمایت جامعه جهانی از این کشور پیوند دارد. ایالات متحده و شرکای بین‌المللی‌اش باید از اهرم حمایت اقتصادی (حیاتی برای افغانستان) و کمک‌های توسعه‌ای‌شان به این کشور برای تأثیرگذاری بر رفتار و عملکرد طالبان و حکومت افغانستان به صورت کامل و مؤثر استفاده کنند.

برای دولت بایدن باید روشن باشد که یک رویکرد قاطع و صبورانه می‌تواند نتیجه خوبی برای منافع ایالات متحده و افغانستان داشته باشد. اندازه و هزینه حضور امریکا در افغانستان به‌طور قابل‌ملاحظه کاهش یافته است و اکنون دو طرف درحال گفت‌وگو هستند. دیپلماسی ماهرانه و مؤثر، استفاده‌ی خوب از کمک‌ها و ابزارهای نظامی و حمایت شرکای افغانستان می‌تواند به این کشور برای رسیدن به صلحی که اکثریت قریب به اتفاق شهروندانش آن‌را آرزو دارند و صلحی که منافع امنیتی ایالات متحده را تأمین و جایگاه بین‌المللی امریکا را تقویت کند، کمک کند.

# د کرونا نوې او خطرناکې بڼې؛

## په اروپا کې د کرونا د نویو او خطرناکو بڼو راڅرگندېدو اندېښنې ډېرې کړې

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۰۲ میلیونه او ۷۳۵ زره او ۲۰۴ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۲۱۸زره او ۵۴۱ کسان مړه شوي او له ۷۴ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۶ میلیونه او ۵۱۴ زره او ۲۷۵ ته رسېدلي او ۴۴۷ زره او ۴۹۰ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۷۴۰ زره او ۳۰۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د نهه میلیونه او ۱۱۹ زره او ۴۷۷ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او ۸۳۲زره او ۸۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېتانیا د درې میلیونه او ۷۷۲ زره او ۸۱۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

بلخوا، د کرونا ویروس د دریو نویو موندل شویو بڼو د خپرېدو له کبله په ټوله نړۍ کې اندېښنې په زیاتېدو دي. کاناډا، برېټانیا، فرانسه، جرمني، پرتگال او چک جمهوریت د هغو هېوادونو له ډلې دي، چې د دې نوې ځپې د مخنیوي لپاره یې پر نړیوالو سفرونو تازه محدودیتونه لگولي دي.

په اروپا کې چې تر دې وړاندې هم محدودیتونه لگېدلي، حکومتونه د لا سختو بندیزونو د لگولو په برخه کې اقدامات کوي؛ ځکه د کرونا د نویو بڼو موندل ښیي چې دا ویروس په چټکۍ سره د نړۍ ډېرو هېوادونو ته رسېدلی دی.

په ورته وخت کې د روغتیا د برخې متخصصین وایي چې د کرونا ضد اوسنی واکسین ښایي ونه شي کړای چې خلک د کرونا د نویو بڼو پر وړاندې خوندي کړي. په برېټانیا، برازیل او جنوبي افریقا کې د کرونا د نویو بڼو موندلو دا اندېښنې زیاتې کړې چې ښایي دا وبا تر دې هم خطرناکه شوي وي.

فرانسه وایي، سر به نن (یکشنبې) خپلې پولې د غیر اروپایي هېوادونو د وگړو پرمخ بندوي. د فرانسې لومړي وزیر ژان کاستیکس دا اقدامات د روغتیایي امنیت له بېړنۍ غونډې وروسته اعلان کړي. هغه د کرونا نوې بڼې ډېرې خطرناکې بللې دي.

برېټانیا هم ویلي چې متحده عربي امارات، بروندي او رواندا د هغو هېوادونو په نوملړ کې شاملوي چې هغوی ته تگ راتگ ممنوع دی او جرمني به هم ډېر ژر برېټانیا، ایرلنډ، پرتگال، برازیل او جنوبي افریقا ته چې د کرونا نوې بڼې سخت ځپلي، پر تگ راتگ بندیز ولگوي.

# برنا د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي




برنا د لوړو زده کړو خصوصي موسسه چې په بدخشان ولایت کې موقعیت لري، په ۱۳۹۲ کال کې یې د افغانستان له لوړو زده کړو وزارت څخه تر جواز اخیستو وروسته پر فعالیت پیل کړی دی.

د یادې موسسې د مشر عبدالاحد حاجي زاده په وینا، برنا د لوړو زده کړو خصوصي موسسې په پیل کې یوازې د اقتصاد پوهنځی درلود، خو په ۱۳۹۳ کال کې یې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی هم تاسیس کړ.

د ښاغلي حاجي زاده په وینا، د برنا د لوړو زده کړو موسسې د اقتصاد پوهنځی دوه ډیپارټمنټونه، بشري سرچینې او BBA لري او د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې هم دوه ډیپارټمنټونه، قضا او څارنوالي او اداره او ډیپلوماسي لري چې اوس عملاً فعالیت کوي او محصلین پکې پر زده کړو بوخت دي.

د برنا د لوړو زده کړو موسسې مشر عبدالاحد حاجي زاده وایي، دوی د هغو محصلینو په گډون چې د دولتي کانکور ازموینې له لارې خصوصي پوهنتونونو ته پر شرایطو برابر گڼل شوي دي، په خپلو دواړو سهارنۍ او ماښامنۍ دوره کې ټول ۱۷۰۰ محصلین لري.

حاجي زاده وایي، برنا د لوړو زده کړو موسسې تر اوسه اته دورې فارغین ورکړي دي، چې په هره دوره کې یې له ۱۰۰ څخه تر ۱۵۰ پورې فارغ محصلین ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

د ښاغلي عبدالاحد حاجي زاده په وینا، برنا د لوړو زده کړو موسسه د کال په دوو دورو کې نوي محصلین جذبوي چې یوه یې پسرلنۍ دوره ده او بله یې خزاني دوره ده. نوموړی وایي چې یاده موسسه په یاده هره دوره کې له ۲۰۰ څخه تر ۳۰۰ پورې نوي محصلین جذبوي او د لوړو زده کړو اسانتیاوې ورته برابروي.

ښاغلی حاجي زاده وایي، برنا د لوړو زده کړو موسسه په ټوله کې ۲۷ استادان لري چې له دې ډلې ۸ یې له بهرنیو هېوادونو څخه د ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او پاتې نورو یې په هېواد کې د ننه او بهر د لېسانس تر کچې پورې خپلې لوړې زده کړې کړې دي. ښاغلی حاجي زاده زیاتوي چې د استادانو په ډله کې یې ښځینه استادانې هم پر دنده گومارلې دي.

دی وایي، هڅه یې کړې ده چې په خپل مسلک کې رسېدلي او تجربه لرونکي استادان پر دنده وگوماري څو په کار پوه او مسلکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.

د ښاغلي عبدالاحد حاجي زاده په وینا، دا چې د هېواد د وگړو په ځانگړې توگه د بدخشان د اوسېدونکو مالي وضعیت ډېر د پام وړ ښه نه دی او د یادې موسسې محصلین په پوره توگه د خپل فیس له ورکړې څخه عاجز دي، نو برنا د لوړو زده کړو موسسه خپلو محصلینو ته هر سمیستر د پام وړ تخفیف په پام کې لري او د ټولنې مالي ستونزو ته په کتو خپلو محصلینو ته د پام وړ تخفیف ورکوي، څو ځوانان له لوړو زده کړو څخه بې برخې پاتې نه شي.

ښاغلی حاجي زاده همدا راز وایي، دا چې په اوسنیو شرایطو کې محصلین د خپلې اړتیا وړ مالوماتو د لاسته راوړلو لپاره لا ډېرو علمي سرچینو ته اړتیا لري، نو برنا د لوړو زده کړو موسسه هم د خپلو محصلینو د علمي کچې د لوړولو په موخه کتابتون لري. نوموړی وایي، که څه هم یاده موسسه دوه پوهنځي لري، خو په کتابتون کې یې د یادو پوهنځیو اړوند کتابونو سربېره، ډېر نور کتابونه هم شته چې شمېر یې ۳۹۰۰ جلده ته رسېږي او محصلین کولای شي په هره برخه کې خپل د اړتیا وړ مالومات ترې تر لاسه کړي.

نوموړی وایي چې برنا د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو لپاره له دې سربېره، د برېښنایي کتابتون او انلاین کتابونو خدمتونه هم وړاندې کوي.

د برنا د لوړو زده کړو موسسې مشر عبدالاحد حاجي زاده وایي، دوی په هېواد کې د ننه او له هېواده بهر له ډېرو علمي مرکزونو او پوهنتونونو سره اکاډمیکې اړیکې لري. د نوموړي په وینا، دوی د روان کال په لړ کې د کرونا وبا له امله د رخصتیو پر مهال د پاکستان، هندوستان، کینیا او داسې نورو هېوادونو له ځینو پوهنتونونو سره اړیکې درلودې او د یادو پوهنتونونو د استادانو په مرسته یې خپلو محصلینو ته په انلاین بڼه درسي چارې پر مخ بېولې او همدارنگه یې د یادو هېوادونو له پوهنتونونو سره د محصلینو د تبادلې په برخه کې هم هوکړې کړې دي.

ښاغلی حاجي زاده وایي، دوی خپلو فارغ شوو محصلینو ته په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجستر شوي ډیپلومونه ورکړي دي. نوموړی وایي، دا چې په لوړو زده کړو وزارت کې د اسنادو پروسه یو څه ورو پر مخ ځي، نو فارغ شوو محصلینو ته یې د اسنادو په ورکړه کې یو څه ځنډ رامنځته کېږي، خو په ټوله کې یې خپلو فارغو محصلینو ته د فراغت سندونه ورکړي دي.

د برنا د لوړو زده کړو موسسې مشر عبدالاحد حاجي زاده وایي، دا چې محصلین د خپلو درسي پروگرامونو تر څنگ ډېرو هڅوونکو او علمي فعالیتونو ته هم اړتیا لري، نو برنا د لوړو زده کړو موسسې د خپلو محصلینو د علمي سویې د لوړولو په موخه ډېر پروگرامونه تر لاس لاندې لري، چې له دې ډلې یې کولای شو د ډېرو داخلي او بهرنیو استادانو لخوا علمي سمینارونو، ښوونیزو ورکشاپونو، پوهنتونونو او تاریخي ځایونو ته علمي سفرونو او داسې نورو هڅوونکو فعالیتونو ته اشاره وکړو.

ښاغلی حاجي زاده وایي، دوی د برنا د لوړو زده کړو موسسې د لا پرمختگ او پیاوړتیا په موخه ډېر ستراتېژیک او اوږدمهاله پلانونه لري، چې په راتلونکو کلونو کې به یې پلي کړي. له دې ډلې کولای شو پوهنتون ته د یادې موسسې ارتقاع، د نصاب او درسي برخې د کیفیت لوړوالي، له داخلي او بهرنیو علمي مرکزونو سره د اړیکو ټینگولو او تضمین کیفیت چارو ته اشاره وکړو.


د برنا د لوړو زده کړو موسسې مشر ښاغلی عبدالاحد حاجي زاده همدا راز وایي، دوی له دولت او په ځانگړې توگه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو ته ځانگړې پاملرنه وکړي، په مالي برخه کې یې لاسنیوی وکړي او د فارغو شوو محصلینو د اسنادو د ورکړې چارې په چټکۍ او شفافیت سره تر سره کړي. نوموړی وایي چې د کال په جریان کې د کرونا وبا پر مهال هر علمي او اکاډمیک مرکز له مالي ستونزو سره مخ شوی دی، نو له دولت څخه مو هیله دا ده چې په دې برخه کې علمي مرکزونو او په ځانگړې توگه خصوصي پوهنتونونو ته ځانگړې پاملرنه وکړي.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
کابوکي




دولت: موږ اوس هم دا خبره کوو، مودي ډېر منلی شخصیت دی. خبره دا ده چې که دی نظام ولړزوي، نو یو فرصت به هم جوړ کړي.

د ډاکتر منموهن سېنگ د صدارت په لومړیو کلونو کې چې زه د لومړي وزیر له دفتر ووتم، د «حریت» یوه مشر ته مې وویل: «موږ چې درته کوم وړاندیزونه کول»، هغه مو ولې نه منل؟ دی له خندا شین شو، ویې ویل: «تاسې غواړئ چې موږ له ده سره معامله وکړو؟ موږ له Hindu India سره ستونزه لرو.

ځکه خو منموهن سېنگ پر حالاتو پوه نه شو. واجپای ورته هر څه تیار په غوري کې پرېیښي وو، خو «BJP» نه پرېښوده. زیاتره خلک وایي دی تر «۱۰ Janpath» له «BJP» ډېر وېرېده. همېشه به یې پر سر د «BJP» پېریان ناست وو.

دوراني: اوباما په خپله اته کلنه دوره کې په افغانستان کې رېسک وا نخیست، په لیبیا او منځني ختیځ کې هم همدا شان. ځکه خو یې له ایران او کیوبا پرته نوره ناکامي په میراث پرېیښې ده. همدغه شان که مودي ته وروسته پته ولگي چې په بهر کې له ناکامۍ سره مخ دی او دی بیا چا ته لاس ور غځوي، نو څوک به یې جدي گڼي. دوی به په حیرانۍ وایي: یوه بې کاره پرزه، یو داسې څوک چې وخت یې پر ختمېدو دی.

دولت: له سیاسي پلوه یې زه درسره نه منم. مودي، اوباما نه دی. اوباما د امریکا یو ښه ولسمشر و، له فکري پلوه او نورو اړخونو. زما له انده په امریکا کې یوه تورپوستي ته دا اسانه کار نه دی. فکر نه کوم چې زموږ والو دې په خاطر کې لا کله دغسې خیالونه را وگرځي.

دوراني: بالکل، زه درسره دا منم چې اوباما له فکري او علمي پلوه ډېر ښه و. کارټر هم همدغسې و. خو زه درته وایم چې دغه له علمي پلوه چې زیات پوهېږي، دوی چېرته نه رسېږي. رېگن ښځې علمیت نه درلود، ښځې د دغه ډونالډ ډک نومېږي که څه نومېږي، غوندې و. دا ټرمپ لوی کم عقل ښکاري، خو چې گورې د هوښیارانو کار به یې کړی وي. رېگن هم په شلمه پېړۍ کې د امریکا تر گردو کامیاب ولسمشر و. دی په خاورو خبر نه و، خو ۱۲ ښه کسان یې وگومارل او دوی هر څه سم کړل. دوی د امریکا لپاره دغه هر څه وکړل.

مودي نمایشي انسان دی. نمایشي کارونه یې خوښېږي. د خلکو پام ور اړول یې خوښېږي. دی پوهېږي چې په ډاکه او کابل کې پاکستان ته تر گوتڅنډنې وروسته که لاهور ته لاړ شي، خلک به حیران پاتې وي، وایي به چې دی مهم سړی دی، له ده سره معامله کولای شو. خو د سیمې لپاره ښه نیتونه نه لري، له ده سره یوازې په کور د ننه د بدلون راوستلو غم دی. دی هوښیار دی.

له میا صېب سره د متقابل تاثیر خبره، بلکې میا صېب دغسې شیانو ته گوري نه. دی په غریزي ډول ښه کار کوي یا ممکن سوداگریزو او اقتصادي ملاحظاتو دې پایلې ته رسولی وي. دی پر کور د ننه د خپلې سیاسي بقا پر ساتلو ښه پوهېږي، خو په نړیوالو اړیکو کې خوشې غویی دی.

سېنها: لوی کم عقل غویی او مودي؟

دوراني: گېدړ دی. مودي هوښیار دی، ډوال هم همدغسې دی. ډوال او جنجوعه سره څنگه پرتله کوی؟ ډوال د استخباراتو یو تکړه مامور و، متفکر انسان دی او ځېرک دی. خو خبره دا نه ده. جنجوعه؟ یو عادي سرتېری و. فکر نه کوم چې ده دې له هند سره د اړیکو په تړاو ډېر څه زده کړي وي، د فرقو او لېواگانو قوماندانی یې کړې او د «ساودرن کمانډ» قوماندان پاتې شوی دی. ما له ده سره دوه ځلې کتلي دي او دې پایلې ته رسېدلی یم چې دی ډوال نه شي ماتولی.

ستاسو لومړی وزیر او د ملي امنیت سلاکار دواړه زموږ تر وال ښه دي.

سېنها: ښاغلی دولت وایي چې مودي دا کار کولای شي، تاسو وایاست چې دی یې نه کوي؛ ولې یې نه کوي؟

دوراني: په تېرو شلو دېرشو کلونو کې د دې خبرې ډېر تکرار مې ژبه پولۍ کړه. زه چې مودي ته گورم، د ده ټیم ده، یا د ډوال په تړاو ځومره پوهېږم، په هند کې سیاسي اوضاع ته گورم، نو زه وایم چې دا خلک یې نه شي کولای. هو د واجپای غوندې خلک وو چې اوضاع یې پر «کشمیریت-جمهوریت او انسانیت» کراره کړه. خو دا خلک دې کار ته جوړ نه دي. دوی دا کار کول نه غواړي.

سېنها: نو مودي د خپلې دې سخت سرۍ انځور پیکه کولای نه شي؟

دولت: دا یوه ستونزه ده چې دی یو ځانگړی انځور لري او نه غواړي چې انځور یې پیکه شي. په اړیکو کې وړاندې تگ یې په گټه و. زه د جنرال صېب خبره تاییدوم، ورځ تر بلې داسې ښکاري چې هېڅ دې هم و نه شي.

بله خبره دا ده چې په ټوله نړۍ کې که سیاستوالو په لومړیو شپږ میاشتو کې یا په یوه کال کې څه وکړل کړي به یې وي، گڼې په پاتې دوره کې څه نه کوي. همدارنگه د مودي کسان په ټاکنو کې غرق دي او یو ځای ټاکنې خلاصې نه وي، چې بل ځای شروع شوې وي.

**دوام لري...**

اقتصاد

د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۵ |
| € | ۹۳,۵ |
| Rp. | ۴۸۰ |
| ₹ | ۱۰۵۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۴,۶ |

بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# خونړۍ جګړه او پر راتلونکي حکومت نانډرۍ؛

## د نوي حکومت په اړه د طالبانو څرګندونو، د افغان چارواکو سخت غبرګون وپاراوه



د طالبانو له لوري د موقت حکومت په اړه وروستیو څرګندونو سخت غبرګونونه پارولي دي. د طالبانو پلاوي په مسکو کې په یوه خبري غونډه کې وویل چې ولسمشر غني د سولې په لار کې خنډ دی او د سولې د راتګ لپاره باید نوموړی له خپلې دندې استعفا ورکړي. دې مسئلې د افغان حکومت تر څنګ په ټولنیزو رسنیو کې د سیاسي او سولې د برخې فعالین هم پارولي دي. دوی په دې تړاو ډول ډول څرګندونې کړې، خو ولسمشر غني بیا د طالب پلاوي څرګندونې غندلې دي.

میاشتې کېږي چې په دوحه کې بین الافغاني خبرې روانې دي، خو په دې برخه کې تر دې دمه هېڅ راز پرمختګ نه دی رامنځ ته شوی. جګړې شدیدې شوې، خو د سولې خبرې پڅې پر مخ روانې دي. څو ورځې وړاندې په ټولنیزو رسنیو کې د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي یو غږیز پیغام خپور شو، چې پکې د موقت حکومت خبره شوې وه. هغه په دې غږیز پیغام کې ویلي وو چې ولسمشر غني د نړیوالو او د سولې په برخه کې د همکارو هېوادونو لپاره د خوښې وړ سړی نه دی، نو د طالبانو لومړنی شرط د سولې لپاره د ولسمشر لرې کېدل دي.

د دغو خبرو په دوام، تازه د طالبانو یوه پلاوي په مسکو کې هم ورته څرګندونې لرلې دي. د طالبانو یو پلاوی د ملا عباس ستانکزي په مشرۍ مسکو ته تللی و او هلته یې په یوه خبري کنفرانس کې وویل چې دوی د ولسمشر غني لرې کېدل غواړي او په خبره یې، تر هغه چې ولسمشر غني په واک کې وي، د سولې راتګ ناشونی دی. د طالبانو نورو مشرانو په دې اړه څرګندونې نه دي لرلې، خو عباس ستانکزی دا هم وایي چې له امریکا سره د یوه نوي اسلامي حکومت پر رامنځ ته کېدو باید توافق ته ورسېږي. د ده په خبره: ((موږ داسې یو حکومت غواړو چې له امریکا سره د نوي اسلامي حکومت د جوړښت په هوکړه کې ذکر شوی، اسلامي حکومت په دې معنا چې د اشرف غني حکومت ختم شي او پر ځای یې داسې یو حکومت چې په افغانستان کې ټولو خواوو ته د منلو وي، رامنځته شي)).

د عباس ستانکزي دغو څرګندونو د افغان چارواکو غبرګون پارولی دی. ولسمشر غني د اسپین امنیتي غونډې ته وویل د لنډمهالو ادارو رامنځ ته کېدل وینه بهېدنه ده. نوموړي دغه ډول څرګندونې د پردیو کړیو کار بللی او په خبره یې، حکومت به یوازې او یوازې هغه کس ته سپاري چې د ولس په رایه راغلی وي. د ولسمشر په خبره: ((موقت حکومت به خپل مشروعیت له کوم ځایه اخلي؟ ایا افغان امنیتي ځواکونه به یې امرونه ومني؟ کله چې موږ موقته اداره وایو، زموږ له اساسي قانون سره به څه کوي؟ جمهوري نظام د واک پر سپارلو ولاړ دی، باید د ټاکنو پر نېټې هوکړه وکړو، موږ لنډمهالې اداري لرلې چې د وینې بهېدنې لامل شوې. کابل ۱۹۹۲ کې د یوې لنډمهالې ادارې له خوا ویجاړ شو، صدراعظم پر خپل ولسمشر بمونه وغورځول او ولسمشر له صدر اعظم سره جنګېده)).

ولسمشر غني همدا راز په دې غونډه کې د امریکا له حکومت وغوښتل چې د سولې پروسه و ارزوي او په وینا یې، امریکایي حکومت دې د سرتېرو په ایستلو کې بېړه نه کوي. هغه طالبان تورن کړل چې پر ژمنو یې عمل نه دی کړی او په خبره یې، دغه ډله د سولې لپاره باید اراده پیدا کړي او امریکا دې پر دوی فشار راولي چې د سولې او اوربند وړاندیز ومني.

له دې سره جوخت د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي مشر هم غبرګون ښودلی او په خبره یې، طالبان باید په دې پوه شي چې جګړه یې په افغانستان کې ناروا ده. هغه ویلي د نړۍ د سترو مذهبي بنسټونو غړو او علماوو په افغانستان کې د طالبانو روانه جګړه ناروا او افغان وژنه بللې ده، نو له همدې امله دغه ډلې ته په کار ده چې ژر تر ژره خپلو جګړو ته د پای ټکی کېږدي.

په ټولنیزو رسنیو کې هم پر دې موضوع غبرګونونه پارېدلي او د کاروونکو په خبره، حکومت او دولت دواړو ته په کار ده چې خپل دریځ نرم کړي، د پیاوړي نظام او پرمختللي افغانستان لپاره دې سوله وکړي او د امتیازاتو دې روانې جګړې ته دې د پای ټکی کېږدي.

## عمران خان: په افغان جګړې کې ګډون د پاکستان ستره تېروتنه وه



د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د خپل هېواد په مخکنیو حکومتونو او چارواکو نیوکه کړې چې ولې یې د افغانستان په جګړې کې ګډون کړی دی. عمران خان ویلي، چې دا د پاکستان د پخوانیو واکمنانو لویه تېروتنه وه، چې په افغانستان کې یې د امریکا په مشرۍ له ترهګرۍ سره په جګړې کې دخیل شول.

نوموړي دا نه دي ویلي، چې په دغې جګړې کې پاکستان ته کوم زیان رسېدلی، خو د ده په خبره، پاکستان د پیسو په بدل کې د بهرنیو جګړو برخه ګرځېدلی او باید د دغو نیمګړو تګلارو له تېروتنو څخه زده کړه وشي. عمران خان دا خبره داسې مهال کوي، چې افغان حکومت په ځلونو پاکستان تورن کړی، چې وسله والو طالبانو ته یې پناه ورکړې، روزنه ورکوي او وروسته یې افغانستان ته د جګړې لپاره استوي، خو پاکستان دا تورونه نه مني.

په ورته مهال د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن ورمه شپه د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمود قریشي سره د افغانستان د سولې پروسې او نورو مسایلو په اړه خبرې کړې دي. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي، قریشي د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ته ویلي چې د خبرو اترو له لارې د افغانستان د مسئلې هوارې د امریکا او پاکستان یو له دوه اړخیزو هدفونو څخه دی. قریشي ویلي، اړینه ده چې تاوتریخوالی کم شي، اوربند ته لار هواره شي او د افغانستان لپاره د یوې ټول شمولې حللارې د موندلو لپاره کار وشي.

د خبرپاڼې له مخې، شاه محمود قریشي د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ته ویلي، چې هېواد یې د افغانستان د سولې پروسې ته لار هواره کړې او ژمن دی چې په دې هیواد کې د سولې لپاره د امریکا شریک واوسي.

## راپورونه: د علیپور اړوند ملېشو او امنیتي ځواکونو ترمنځ په نښتو کې ۳۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې



د راپورونو له مخې، د وردګو ولایت په بهسود ولسوالۍ کې د امنیتي ځواکونو او د علیپور د ملېشو ترمنځ په نښتو کې نږدې ۳۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې دی.

کورنیو چارو وزارت رسنیو ته په لېږلې اعلامیه کې ویلي، چې د یاد ولایت امنیه قوماندانۍ چارواکو د بهسود د لومړۍ او دویمې حصې سیمو لپاره نوي قوماندانان معرفي کول، چې د علیپور په نوم د نامسووله وسله والو له غبرګون سره مخ شوي دي.

یاد وزارت ویلي چې د علیپور ګڼ شمېر وسله وال د بهسود ولسوالۍ ودانۍ مخې ته راټول شوي وو او په وینا یې، پر امنیتي سرتېرو او خلکو یې ډزې کولې. کورنیو چارو وزارت زیاته کړې، چې د لاریون په نوم په دغه تاوتریخوالي کې د سیمې له یو شمېر خلکو څخه هم استفاده شوې وه.

د راپورونو له مخې، په دغو نښتو کې د علیپور اړوند نهه ملېشې وژل شوي او د امنیتي ځواکونو او د سیمې د خلکو په ګډون تر ۲۰ ډېر کسان ټپیان شوي دي. کورنیو چارو وزارت دغه راز ویلي، چې پولیسو د پېښې په تړاو ۶۸ تنه نیولي او په وینا یې، د پېښې د څېړلو لپاره سیمې ته یو پلاوی رسېدلی دی.

په ورته وخت کې، په ولسي جرګه کې د یاد ولایت استازي مهدي راسخ چې ځان د نامسوولو وسله والو د قوماندان علیپور مرستیال معرفي کوي، وایي چې د وردګو ولایت په بهسود ولسوالۍ کې د افغان ځانګړو ځواکونو او وسله والو ترمنځ جګړه روانه ده. هغه ادعا کړې، چې په دې جګړه کې د علیپور وسله وال حضور نه لري. مهدي ټینګار کړی، که افغان ځواکونه له عملیاتو لاس وانخلي، نو ټول بهسود به یې پر وړاندې ودرېږي.

د یادونې ده چې علیپور د وردګو په هزاره مېشتو سیمو کې تر پنځو زرو ډېر نامسووله وسله وال لري چې وخت ناوخته پر نورو ناقانونیو سربېره، په سیمه کې پر امنیتي پوستو هم بریدونه کوي.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۱۲مه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۳۱مه | ۶۷۲یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱۸ | ۲۲ | ۱٤ | ۱۸ | ۱۳ |
| -۱ | ۲ | ۲ | ٦ | ٥ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۹ | لمر ختل ۰٦:۵۲ | ماسپښین ۱۲:۰۷ | مازیګر ۰۳:٤٤ | ماښام ۰۵:۲۲ | ماخوستن ۰٦:٤۸

## نړۍ




## پوتین د له امریکا سره تر ناندریو وروسته، د «نیو سټارټ» تړون د مودې د غځولو سند لاسلیک کړ



د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین د نوي پیل یا (نیو سټارټ) په نوم د اټومي وسلو د پراختیا د مخنیوي د تړون د مودې د غځولو سند لاسلیک کړ.

کرېملین په یوه اعلامیه کې ویلي، چې د دغه تړون تمدید د مسکو او واشنګټن په ستراتېژیکو اړیکو کې د روښتیا او وړاندوینې وړتیا ممکنوي.

دا په داسې حال کې ده چې د روسیې ولسي جرګې یا ډوما د جنوري په ۲۷مه د رایو په غوڅ اکثریت دا تړون د پنځو نورو کلونو لپاره تمدید کړی و او ورپسې مشرانو جرګې هم دا پرېکړه سمدستي تصویب کړه.

نیو سټارټ تړون په ۲۰۱۰ز کال کې لاسلیک شوی و او د پای نېټه یې د فبرورۍ میاشتې پنځمه ټاکل شوې وه.

نیوسټارټ د واشنګټن او مسکو تر منځ د اټومي وسلو د پراختیا د مخنیوي وروستی تړون دی، چې د دواړو هېوادونو د اټومي کوپړیو شمېر تر ۱۵۵۰ پورې محدود ساتي.

دغه تړون امریکا او روسیې ته د اټومي کوپړیو د لېږد د ستراتېژیکو سیستمونو شمېر نږدې اووه سوه ټاکلی او د تفتیش زمینه هم برابروي. دواړو هېوادونو تر دې وړاندې پر یو او بل تور پورې کړی و چې دغه تړون یې نقض کړی دی.

روسیې ویلې وو چې امریکا تر دې وړاندې یاد تړون نقض کړی و، خو دا ځل هیله من دي چې دواړې خواوې به تړون ته ژمنې پاتې شي.

## ایمانویل مکرون: له ایران سره د اټومي پروګرام په تړاو باید دا ځل مذاکرات ډېر سخت وي

د فرانسې ولسمشر ایمانویل مکرون وایي، که دا ځل د ایران پر اټومي فعالیتونو مذاکرات کېږي، نو دا مذاکرات باید ډېر سخت وي. نوموړي دغه راز زیاته کړې چې د ایران اټومي ستونزه دایمي حل ته اړتیا لري او په دا ځل مذاکراتو کې باید د عربستان په ګډون د سیمې هېوادونه حضور ولري. ایمانویل مکرون ویلي، چې د یوه اټومي ایران د رامنځته کېدو مخنیوی باید وشي او په دې کار کې نړیوالو ته بېړه په کار ده. هغه زیاته کړې چې د ایران د اټومي پروګرامونو په اړه باید د ایران د ټولو ګاونډیو او د سیمې د هېوادونو اندېښنو ته پاملرنه وشي. د ده په خبره، امریکا او نړیوال باید ژر تر ژره اقدام وکړي، څو ایران اټومي وسلو ته لاسرسی پیدا نه کړي.

د یادونې ده چې د امریکا پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ امریکا له ایران سره له شوي اټومي تړون څخه په یو اړخیزه توګه و ایستله، خو د یاد هېواد نوي منتخب ولسمشر ویلي، که ایران په دغه تړون کې شوې ټولې ژمنې پوره کړي، دوی چمتو دي چې د ۲۰۱۵ ز کال تړون ته بېرته ور وګرځي.

## وزارت خارجه: ۹۸ افغان از زندان های سعودی آزاد و به کشور منتقل شده اند


© Carolyn Kaster/AP Photo

وزارت امور خاجهٔ افغانستان می گوید که ۹۸ افغان از زندان های سعودی آزاد و به کشور منتقل شده اند.

در خبرنامه ای وزارت امور خاجه افغانستان، آمده است که این تعداد افغانها به دلیل نداشتن اقامه، در مناطق مختلف از سوی پولیس سعودی دستگیرشده بودند.

منبع افزوده است که آنها در زندان ها و توقیف‌خانه های مختلف عربستان سعودی بندی بودند، که در نتیجهٔ تلاش های قونسلگری افغانستان در جده؛ رها و در یک پرواز جداگانه بطور رایگان به کابل منتقل شدند.

قابل یادآوریست که سه هفته پیش نیز ۳٤۹ افغان از زندانهای سعوی آزاد و به کشور بازگردانده شده بودند.


وزارت امور خارجه می گوید که از ماه اسد سال روان تاکنون، در نتیجه تلاش های قونسلگری افغانستان در جدهٔ عربستان سعودی، ۲۱٦٤ افغان، از زندان های سعودی رها و بطور رایگان به کشور شان برگردانده شده اند.

در خبرنامه آمده است که حکومت افغانستان به دلیل همکاری ها در این راستا، از حکومت عربستان سعودی تشکر کرده است.

قابل یاد آوریست که پیش از این، شماری از شهروندان افغانستان که در زندان‌های دبی امارات متحده عربی به سر می‌بردند، نیز رها شدند.


## ژوند

## که روغ زړه غواړی؛ غوسه مه کوئ



کوم کسان چې غوسه کېږي، پر نورو ناروغیو سربېره، د زړه له ټکان یا دورې سره ډېر مخ کېدلی او په زړه یې حمله را تللی شي. نوې څېړنه وایي، کوم کسان چې ډېره غوسه کوي، د خپلې غوسې په اندازه د زړه له حملو سره هم مخ کېږي. ډېره غوسه کله کله ان د دې لامل کېږي چې د انسان په دماغ کې ځینې رګونه هم وچوېږي. په امریکا کې په دې اړه شوې څېړنه کې ویل شوي چې له غوسې وروسته د زړه حمله هر چا ته پېښېدلای شي. په څېړنه کې دا هم ویل شوي چې ممکن دا حملې له غوسې دوه ګړۍ وروسته پېښې شي. په دې نوې څېړنه کې ثابته شوې چې له غوسې دوه ګړۍ وروسته د زړه د حملې امکان پنځه چنده ډېر دی او د دماغو د رګ شکېدلو یا مغزي سکتې امکان بیا درې چنده ښودل شوی دی. د دې څېړندلې مشر ډاکټر ایلز ببټ موسټوسکي وایي، کوم کسان چې ډېره غوسه کوي، د هغوی د زړه د درېدلو امکان هم ډېر دی.

## ویوو خپل پیاوړی ځیرک موبایل معرفي کړ



ویوو کمپنۍ په چین کې د یوې رسمي غونډې له لارې خپل نوی پیاوړې ځانګړنې لرونکی ځیرک موبایل چې ویوو اېکس ٦۰ پرو پلس نومول شوی دی، معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل کې د کوالکام کمپنۍ تر ټولو پیاوړی پروسېسر، سنپ ډراګن۸۸۸، او ۱۲۰ هرټز ریفرش ریټ لرونکې مخ‌پاڼه ورکړل شوې ده. دغه ځیرک موبایل ٦,٥٦ انچه ۱۰۸۰*۲۳۷٦ پکسل ریزلوشن لرونکې مخ‌پاڼه لري. شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې ۵۰ مېګاپکسله اصلي، ٤۸ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل، ۳۲ مېګاپکسله پورټرېټ او ۸ مېګاپکسله پرېسکوپ کامرې پکې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې ۳۲ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره لري. ویوو اېکس ٦۰ پرو پلس به ۱۲/۸ ګېګابایټ رم او ۲۵٦/۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا او ٤۲۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري. بېټرۍ یې له ۵۵ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. د دغه ځیرک موبایل بیه ٤۹۹۸ چینایي یوان (تقریباً ٦۰۵۰۰ افغانۍ) ټاکل شوې ده او د جنوري په ۳۰مه خرڅلاو ته وړاندې شو. دغه ځیرک موبایل به په پیل کې یوازې چینایي بازارونو کې خرڅلاو ته وړاندې شي.




د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماسټر ډېبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank